مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد ادریس احساس ۲۰۲۰/۰۸/۱۵

# په خاورو کې خاپونه

## لنډه کیسه



د ورځې نهه بجې وې چې یو سور رنګه بنز موټر د ښارونو په شنه سیورې کې په ډېر سرعت سره د سرک پر سره سینه رواوښت .

هوسی موټر لنډ راتاو کړ په ډېر شدت سره یې بریک ونیوه د موټر له ټایرونو ګرد پورته شو ، توره لیکه خط د سرک پرمخ تر یوه ځایه له ورایه ښکاره شو سهار ناڅاپه ،په موټر کې دننه دستګیر ته لاس واچوه ، په ځیر ځیر یې هوسی ته وکتل او بیا یې وویل: دا ډول فلمي ډریوري یواځې په فلمونو کې خوند کوي په واقعي ژوند کې دا لوبه بیا ځانته تاوانونه لري .

هوسی کړس کړس په خندا شوه او غلې یې وویل: مه دارېږه ، هیڅ درباندی نه کېږي پوهېږم چې په مور دې ډېر ګران یې .په همدې خبرو کې یې موټر د سرک یو اړخ ته ودراوه ، پر تندي یې په را ځړېدلي اوربل ګوتې تیرې کړې ، په ځانګړې انداز یې سترګې راواړولې .

د موټر له ښیښې بهر د لوړو شنو ښارونو ځانګې پر سرک را پرتې وې تا به ویل چې پر پاخه سړک یې خوله لګوله، نرۍ نرۍ باد د ښارونو په ځانګو کې چلېده ، د سرک دواړو اړخونو ته د ناجو کتار شنې ونې د غزېدلي سرک تر انتهار سرونه له آسمان سره جنګول ، د پسرلني موسم سندره د پاڼو په خوځېدو کې زمزمه کېده ، له ښارونو هاخوا ګڼې کورنۍ له کابله او د هېواد له بېلابېلو برخو د تفریح لپاره راغلې وې .

هوسې څو شیبې دې منظرې ته ځیر شوه او بیا یې لنډ ښي اړخ ته وکتل .

امممم ، څنګه دی سهار صایب دا ځای دې خوښ شو ؟

ته خو لیکوال یې همداسې نده ؟

کیسې خو ډېرې لیکې که څنګه ؟

زه پوهېږم چې د دې ځای انځور به ستا د یو داستان سوژه وي ، همداسې نه ده ؟

سهاره زه پوهېږم چې ته به د کونړ په ښایسته شنو غرونو او منظرو ډېر ګرځېدلی یې ؛ مګر داسې ښکلی ځای به دې لومړی ځل وي چې وینې به یې ؟

هې ماته وګوره ، زه رېښتیا نه وایم!

سهاره ته راته دا ووایه چې ته ولې نن داسې چرتي یې ؟

زه غواړم چې نن له تاسره ټوله ورځ همدلته تیره کړم ، خو په خوشالی !

سهار په داسې حال کې چې د هوسی سترګو ته یې کتل ، ورو ورو یې په خبرو پیل وکړ.

غلې خو ځکه یم چې راډیو ته مې یو داستان لیکه ، یوه برخه یې پاتې ده باید هغه برخه مې ډېر ژر خلاصه کړې وای ، خو څه خیر بیا به یې د شپې ولیکم .

هوسی په موسکا ورته وویل: ښه ما فکر کاوه ، چې ته به زما حسن ته سوچ کوې .

سهار نرۍ موسکا پر شونډو وغځېده ، لاندې یې وکتل سر یې وخوځاوه ، بس دواړه کاره کوم !

ستا حسن د یو ښه داستان لپاره عاشقانه الفاظ زما مخې ته ږدي .

سهار د موټر د دروازې دستګیر ته لاس کړ ، دروازه یې خلاصه کړه ، ډېر نرم باد پر سیمه چلېده ، هوسی لړه را مخکې شوه ، سهار یې له لاسه ونیوه ، دواړه د یوې ګڼې ونې اړخ ته کېناستل .

د سهار لاس یې په لاس کې ونیو ، د کیڼ لاس په هره ګوته یې ورو ،ورو ورته لاس تیر کړ ، بیا یې نرۍ موسکا په سرو شونډو یوه آرامه ځپه تیره کړه ، د سهار سترګو ته یې وکتل .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

سهاره! ته پوهېږې زما له دې ځای سره ډېره مینه ده ، ځو ځله مخکې مې له پلار او کورنۍ سره دلته راغلي وم ، د کابل په هره برخه کې د تفریح لپاره ډېرې ښایسته سیمې شته خو د دې ځای ښکلا نلري، هغه ځکه چې دلته لوړ ځنارونه ، د سړک دواړو اړخونو ته د ناجو د کتارو ونو ښکلا ، او هلته لرې ورانډې د انګورو ګڼ باغونه !
آه !
هوسی یوه اوږده ساه واخیسته او بیايې وویل : ته به وایې چې د طبیعت ټوله ښکلا همدلته راټوله شوې .
سهار ځان لږ په اړخ کړ په مینه مینه یې هوسی ته وکتل ، له ځان سره یې وویل نه داسې نکیږي ،سهار د خپل ښي لاس په ورغوي سر کېښود ، په ځېر ځېر یې د هوسی د مخ په ښکلي کتاب کې خپله راتلونکي ځو ځو ځله ولوسته

هوسی په خندا شوه ،لنډ یې ځواب ورکړ ، د کونډې زویه !
هیڅ پوه نشوې ؟
سهار یې له لاسه ونیوه را کش یې کړ په ښي لاس یې سر ورته ټیټ کړ ، د سهار سر یې په خپل زنګون کېښود ، ورو ورو یې د هغه په ویښتو کې لاس وهل شروع کړل . سهار نرۍ موسکا وکړه ، کیڼ لاس یې د هوسی پر زنګون کېښود بیا یې وویل: ښه د خان صایب لورې ودې نه ویل چې دا کوم ځای دی ؟
د سهار له همدې پوښتنې سره یو دم هره خوا تر ونو لاندې ناستې کورنۍ ځوک ودرېدل ، ځوک په منډو شول ، سهار نیغ په خپل ځای کېناست، سړک ته یې وکتل ، د لوکسو موټرو یو اوږد کتار تیر شو .
یو هلک چې لږ ورانډې د ځنار ډډ ته ولاړ وو ، په لوړ غږ یې وویل: هلئ چې ظاهر شاه پاچا راغی !
سهار نیغ ودرېده غوښتل یې چې د خلکو په ډله کې مخ ته ورشي ، خو هوسی له لاسه کلک ونیوه ، بېرته یې په خپل ځای کېناوه ، ځه یې کوې ؟
ما ځو ځله لیدلی ، زه مې له پلار سره ځو ځله د هغوی له کورنۍ سره یوځای چکر ته تللې یم ، ډېر مې لیدلی تا به هم ورته عکسونه ډېر لیدلي وي ، سر یې وینښته نلري ، له ونې لږ لوړ دی همدا یې ټوله ښکلا ده.
سهار د هوسی په دې خبرو وخندل سر یې وخوځاوه او ورته یې وویل : هو نو پلار دې د لویو خانانو ځخه دی ، دربار ته نژدې خلک یاست ،موږ بې وزله ولس یو د پاچا لیدل هم را ته غټه خبره ښکاري .
بېرته کېناسته نور یې ځه ونه ویل: خو هوسی خبرو ته ادامه ورکړه ، ځو لسیزې یې حکومت وکړ ، مګر هېواد د ده په واکمنۍ کې هیڅ پرمختګ ونکړ ، له نوي او عصري ژونده یې ولس په ځنګ کې وساته ما ته خو دی ډېر ښه پاچا نه ښکاري . سهار غلی وو ، یواځې د هوسی خبرو ته یې غوږ وو ، خو یودم یې ذهن بیرته هماغې پخوانۍ پوښتنې ته لاړ. ښه ګرانې او سیاست مدارې هوسی جانې ودې نه ویل چې دا کوم ځای دی ؟
هوسی د سهار دې خبرو ته وخندل او بیا یې وویل: سیاست مداره خو به خود یم لوړې زده کړې مې کړې ، همداسې نده ؟
سهار ورته وکتل امممم داسې خو ده منم یې درسره .
دومره خو پوه شوم چې د کابل ښار شمالي خوا ده ، مګر د ځای نوم به ځه وي ؟
هوسی له لاسه ونیوه په ژور نظر یې ورته وکتل او بیا یې وویل: دې ځای ته ( کاریز میر ) وایې، د تفریح ځای دی، خلک ډېر ورته راځي ، او بیا زما او ستا په شان د مینې لیوني هم !
سهار غلي وخندل ، یوه وړه تیره تیره یې را واخیسته ، هوسی ته پوهېږې چې په دې وړه تیره تیره ځه کوم ؟
نه ځه پرې کوې ؟
غواړم د ونې په دې ډډ د همدې کال تاریخ لیکم . هوسې پر تندې پروت اوربل شاته واړوه او بیا یې غلي ځنګ ته کېناسته . سهار ولیکل ( ۱۰/۱/۱۳۴۴) نیټه ؛ کاریز میر، کابل ( س ـ هـ ) .
درز ، درز ، دکلا دروازه چا ووهله ،د موبایل سکرین ته مې وکتل د هوسی ناول ډېر اوږد وو خو بیا مې له ځان سره وویل ، ځه ځه یې کوې موبایل در سره دی هر وخت او هر چېرته یې لوستی شې ، ځه پخوا وخت خو ندی چې په کتاب پسې به کوټه په کوټه ګرځې !
موبایل مې بند کړ ، د هوسی ناول مې په همدې ځای پرېښود .
د کلا دروازه مې خلاصه کړه ، یو زړه ښځه وه ، کوچیانې جامې یې په تن وې ،له واره مې ورسره پښتو خبرې وکړې ، خوشاله شوه په لوړه کوچیانۍ لهجه یې وویل : زویه اوړه غواړم ، د اوړو راوړل راته یو ځه ستونزمن ښکاره شول یو شل ګون نوټ مې ورته ونیوه ، د خیر دعا یې وکړه ، بېرته مې دروازه بنده کړه ، د جمعې لمانځه تا لا وخت پاتې وو ، اودس مې وکړ له کوچنې ورور سره مې یوځای جومات ولاړم .
ورځې ډېرې تیرې شوې ، د ۱۳۹۸ لمریز کال ژمی هم ورو ورو ختم شو ، د حوت میاشتې پنځلسمه نیټه وه ، ما به اوونۍ کې درې ورځې د سهار له خوا د بوکس په کلپ کې تمرین کاوه ، له ورزش سره مې مینه یو ځه کمه شوې وه ، خو په همدې ورځ چې کله زمونږ تمرین پای ته ورسیده ، زمونږ د کلپ استاد ، عاشق الله نومیده ، خو مونږ به همیشه استاد باله ، په دې ورځ یې د ورزش په اهمیت ډېرې خبرې وکړې ، ځوانان یې نور هم ورزش ته وهڅول ، ځو شیبې وروسته مې جامې بدلې کړې .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د کلپ د وسايلو بکسه مي شاته واچاوله ، غوښتل مي چي له کلپه ووځم، استاد په داسي حال کي چي دواړه سترګي يي په يوه سپينه پاڼه نښلولي وي، غږ يي کړ، دلته راشه ، مخامخ کوچ کي ورته کېناستم ، په سپينه پاڼه کي يو ليکلی مطلب يي را ته ونيوه ، واخله دا وګوره ، يو څوک غواړي چيرته خبري وکړي ، د علم د ارزښت په هکله مي ورته د وينا متن برابر کړی ، ته يي وګوره چي څنګه دی ؟
په کاغذ کي ليکلی مطلب مي وکوت ، ځيني ځايونو يي اصلاح ته اړتيا درلوده ، هغه مي ورته په ګوته کړل ، ژر يي قلم را واخيست زما نظر يي تر نورو کرښو لاندي وليکه .
موبايل ته يي وکتل .
په لاس کي يي واخيست ، يو نمبر يي راواړه .
زنګ ورغی .
کور کي يي ؟
له هاخوا لنډ ځواب ورکوول شو. هو کور کي يم .
سمه ده ځو شيبي وروسته مونږ هم درځو.
موبايل زنګ پرې شو، له ځان سره يي وخندل، که کار نلري ، صبور دي کور ته ځو نن يي د چايو ست کړی .
مونږ ځو کسه ، زه ، يو بل حاجی ذبيح نوميده چي د کاپيسا له کوهستانه دی ، استاد عاشق الله چي د کابل له کاريز ميره دی ، او صبور چي د پروان د غوربند دی ، ډاکتر خالد چي د نيمروز دی او همدارنګه حشمت چي دی هم د کابل د کاريز مير دی او دا مهال يي ورزش پرېښی وو ، سره له دي چي استاد عاشق الله په ورزش کي زمونږ د ټولو استاد دی ، خو تر څنګ يي بيا زمونږ د ټولو ښه کلکه ملګرتيا هم ده ، کله کله د يو بل کورونو ته ورځو مياشت کي حتمن د يوه کور ته د ډوډۍ او ميلمستيا لپاره سر ورښکاره کوو.
خو په يوه خبره له هماغه لومړی ورځي استاد عاشق الله پر مونږ ټولو تاکيد دا وه ، چي زمونږ او ستاسو وروري او ملګرتيا ده ، کله چي د يو بل کورونو ته ورځو ډېره تياری به لکه د يو ميلمه په شان يو بل ته نه نيسو ، د ده داخبره د ټولو خوښه وه، د هر يوه کور ته به چي لاړو ، هر څه به چي تيار وو ، بس د يار وو . نور مو پسي سر نه خوړاوه

دا ورځ ټول د صبور ميلمانه وو ، تر لسو بجو ناست وو ، حاجي ذبيح به ډېر کله په ديني مسايلو خبري کولي ، خو صبور هم چي په ديني مسايلو کي يي معلومات تر مونږ ټولو ښه وو ، له هغه سره به يي بحثونه کول ، کله کله به په بحثونو سره ګرم شول د يو بل خبري به يي تايد يا رد کړي خو مونږ به ورته غوږ غوږ وو ، خو کله چي به په موټر کي سپاره شولو ، ما به د واره يوه سندره ولګوله ، حاجي ذبيح به زما په دي کار ما ته هم خندل او هم به په قهر وو، خو بيا به غلی شو او سندره به يي تر آخره واورېده .
يوه ورځ مي ښه په ياد دي نه پوهيږم چي چيرته ټول سره روان وو ، څو سندرې مي پرله پسي ولګولي .
په ښېښه کي مي کتل چي حاجي ذبيح راته ګوت څنډنه کوي ، خو په همدی مهال د غزاله جاويد يوه سندره راغله ما ټيپ بند کړ ، حاجي ذبيح په چوکی کي واوښت را واوښت يو دم يي ناری کړې !
ياره خو چي ښه سندره راشي بيا يي بنده کړې !
دا ته څه رقم سړی يي !
د ده په خبره په موټر کي يو دم د ټولو خندا زور واخيست حاجي ذبيح يي د هغي ورځي تر پايه ښه وځوراوه .
د ورځي لس بجي شوې ، د صبور دي له کوره د باندې ووتو ، هر يو ورو ورو د خپلو کورونو په لوري وخوځېدل ، خو د تلو په وخت کي استاد عاشق الله غږ کړ ، ګورئ نوي کال را نژدې دی ، يو ځای وټاکئ چي چکر ته بيا لاړ شو ، ټولو ومنله خو د چکر ځای مشخص نه شو خبره بل وخت ته پاتي شوه .
***
په کومه ورځ چي مونږ ټول د صبور دي په کور کي را غونډ شوي وو له هغي ورځي تر دي مهاله اولسه ورځي تيري شوي وې . دا نو هغه مهال دی ، چي په چين کي د را پيدا شوي ( کرونا) ناروغی په وجه ټوله نړی په وير اخته وه ، په زرګونه انسانان ددې ناروغی په وجه مړه شول ، د نړی د صحي سازمان مسولينو هم خپله عاجزي د دې ناروغی په وجه نړی ته اظهار کره ، بشريت د يو ګډ دښمن سره مخ شوی وو ، د ټولو په خوله همدا يوه خبره وه ، چي کرونا دين ، سرحد او نژاد نه پيژني ، هر چا ته سرايت کوي .
کرونا نړی ته دا ښودله چي انسانيت او بشريت يو جوهر دی ، مګر دا انسانان وو ، چي په نژادونو او سرحدونو يي ځانونه سره بيل کړي وو .
د دې ناروغی لمن افغانستان ته هم را وغځېده ، دا مهال د ايران حکومت ټول افغانان په جبري ډول له ايرانه را بهر کول ، په زرګونونو مهاجر افغانان له ايرانه بېرته افغانستان ته راواوښتل ، د دوی راتګ خپلي خاوري او خپل وطن ته له ايرانه له ځان سره د کرونا ناروغی هم را انتقال کړه . هرات خو لا ځو اوونی مخکي قرنطين شوی وو ، دا مهال چي د حمل د مياشتي دريمه نيټه وه ، د کابل ښار هم د دې ناروغی په وجه قرنطين ته تللی وو. ټول علمي مراکز او دولتي اداري رخصت شوي وې ، اجازه نه وه چي څوک له کورنو د باندې راووځي .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

له بلې خوا بل ناروین چې را پیدا وو ، هغه دننه په هېواد کې په یوه ورځ ، په یوه ساعت دوو ټیمونو د جمهوري ریاست لپاره د لوړې مراسم تر سره کول یوې خوا ته ډاکټر اشرف غني او بل اړخ کې ډاکټر عبدالله ، امریکانو تر دې دمه د دوی د جوړجاړې لپاره ډېرې هلې ځلې وکړې ، مګر د یو ګډ دولت په جوړلو سره سلا نشول ، د هېواد اقتصادي ، سیاسي او صحي وضیت په ډېر جدی حالت کې واقع شوي وو .
د قرنطین په دې اړو دوړ کې زمونږ د ورزشي کلپ دروازه هم وتړل شوه ، څو ورځې نور مو هم له یو بل سره ونه لیدل . یوه ورځ استاد ماته زنګ را ووهه چې راځه دې پورې غونډیو ته به چکر شو .
ټیلفون مې بند کړ ، د ورځې نهه بجې وې ، ورو، ورو د استاد کور خواته وخوځېدم ، زموږ کورونه سره دومره لیرې نه وو ، تقریبآ لس پنځلس دقیقه په پښو د یو بل کورته واټن وو .
زمونږ کورونه د خیرخانې کوتل په بوستان سرک کې وو ، او استاد عاشق الله کور د کاریز په کلي کې.
د استاد د کور مخې ته ورسیدم ، هغه لا له مخکې د خپل کور مخ ته د پولچک په یوه څنډه له خپل کوچني زوی سره ناست وو ، زما په لیدو له خپل ځایه را پورته شو ، زوی یې له لاسه ونیوه لاسونه موسره ورکړل ، خو کله چې مې لاس ورکاوه په خندا شو .
زه غلی شوم ، د استاد د خندا په علت سم پوه نشوم .
هغه بیا وخندل او په خندا خندا کې یې وویل راځه مونږ ورزشکاران یو کرونا مو نه نیسي ، همداسې نه ده ؟
د هغه له خبرو وروسته زه پوه شوم چې باید لاس مې نه وای ورکړی ، ځکه د روغتیا وزارت په لارښوونو کې عام ولس ته دا خبره هم وه ، چې لاسونه به سره نه ورکوئ ، په تجمعاتو کې به ګډون نه کوئ ، او له یو بل سره به په غیږ هرکلی نه کوئ او داسې نورې لارښوونې څو د وایرس له سرایته مخنیوی وشي .
د استاد په خبره ماته هم خندا راغله ، ځکه هغه ریښتیا ویل ، خو دا چې مونږ عادت شوي وو ، ډېر کله به مو دا خبره له یاده ووته چې باید لاس ورنکړو .
په دې ورځ د آسمان تندی هم شین او لمرین وو ، تود لمر د پسرلنې طبیعت په ورمو کې چلیده ، پر ځمکه هر کاڼی د څو ورځو پر له پسې بارانونو په وجه له سپیره مخه ګردجنه څېره پاکه ښکارېده ، ونو تازه تازه له ژمني خوبه سرونه راپورته کړي وو ، او د طبیعت ننداره یې په رڼو سترګو کوله ، د غونډیو خاورینو لمنو زرغون ځادرونه پر سر راښکلي وو ، د بوټو او صحرایې ګلانو په نیمه وازه خوله خندا یې زمونږ د هر پل هرکلی په مینه مینه کاوه .
د طبیعت په دې ښکلې ننداره کې چې ساه په کې په ډاډ چلیده ، استاد د کرونا په هکله له رسنیو راټول کړې معلومات له ماسره شریکول . تر یوې اوږدې خاورینې لوړې څلورې لارې هم واوښتو چې هاخوا ماشومانو په آزاد آسمان کې پتنګان( ګډې پرانونه ) هواته آلوزول ، یو دوه تنه د یوې غونډۍ په لوړه برخه کې ولاړ وو ، په ګډې پران پسې یې تار خوشې کاوه ، یودم یې لاسونه سست شول ، پّه منډو شول ، هغه ته په کتو ټولو ماشومانو منډې کړې ، آن یو دوه کسه چې اوږدې ږېرې یې په مخ وي ،هم پّه آزاد شوې ګډې پران پسې یې منډې وهلې .
په آزاد ګډې پران پسې منډې وهل په کابل کې یو دود دی ، هغه وخت څوک په دې پسې بیا نه ګرځي ، چې ته مشر یې او که کشر بس هغې ته آزادې وایي ، واړه او زاړه ټول ورپسې په منډو شي ، نوم یې آزادې وي ، خو په ریښتیا چې هم آزادي وي ، هغه مهال بیا له چا سره دا سوچ نه وي چې ژوند څنګه تیریږي ، او څه به کیږي ، ټول د آزادۍ مست ملنګان وي ، په منډو وي ، په خندا وي ، ریښتیا هم چې هلته د آزادۍ په مینه سړی څومره ښه پوهیږي ،کله چې ګډې پران آزاد شي .
زه او استاد همداسې ورو ورو سره روان وو ، هغه د کاریز سیمه ګام په ګام را معرفي کوله ، لومړي یې مخامخ یوې غونډۍ ته لاس ونیوه ، ګرد چاپیره ترې دسپینو تیږو دیوال تاوو وو ، پر سر یې څو ګړنګونه چې د دې غونډۍ د هسک والي او غرور له تاوه یې حکایت کاوه راته راوښوده ، یو پخوانۍ قیر سړک چې اوس کنډواله ، کنډواله وو، لکه ښامار یې له غونډۍ غیږه تاو کړې وه ،د غونډۍ تر سره پورته تللی وو .
یوه یوه د ناجو ونه د غونډۍ شاو خوا لکه زمونږ د ملک اوسنۍ حال له یو بله مرور مرور ولاړ وو ، د غونډۍ پر سر یوه نړېدلې خامه خونه ، چې یوازې یو بازو یې ولاړ وو ، له ورایه د غونډۍ پر سر ښکارېده .
استاد وویل ، چې دلته د روسانو پوسته وه ، هغه پورې کلی چې ښکاري هلته د مجاهدینو قرارګاه وه ، مجاهدین له دې پوستې ډېر په تنګ وو ، سر یې ترې نشو پورته کولی ، خو د شپې لخوا به مجاهدین د پوستې نژدې ځایونو ته راتلل او پر پوسته به یې برید کاوه .
په همدې خبرو کې استاد یودم غلی شو ، یوه سترې ساه یې واخیسته او بیا یې وویل : د دې غونډۍ شاوخوا روسانو ماینونه خښ کړې وو ، ځکه مجاهدین ورته نژدې نشوای راتلی . استاد به په خبرو خبرو کې د مجاهدینو ډېر صفتونه کول، د ده له خبرو ماته داسې پټه ولګیده ، چې دی خو یا مجاهد دی او یا د مجاهدینو پلوی ، خو دویم اند مې سم وخوت دی مجاهد نه وو ، ځکه هغه مهال چې مجاهدینو به جګړې کولې دی لا کوچنی وو ، خو د مجاهدینو او بیا په تیره د جمعیت اسلامي ګوند ډېره پلوي یې کوله .
په همدې شیبه کې یې ماته اشاره وکړه ، چې راځه لږ پورته لاړ شو ، د کومې غونډۍ په لمن کې چې مونږ ولاړ وو ، څو شیبې وروسته یې سرته وختو . استاد یو کنډواله ځای ته ګوته ونیوه ، دلته پخوا یو حوض وو ، د کاریز


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

میر اوبه به تردې ځایه د برق په ذریعه را انتقالېدې ، خو له دې ځایه تر هغه غونډۍ چې ښکاري ، استاد یوې لیرې غونډۍ ته لاس ونیوه چې اوس ګڼ شخصي کورونه پرې ولاړ ، همدا اوبه د لولو او پایپونو په ذریعه داسې په شتاب ورتلې چې هلته یې یو لوی د اوبو ابشار جوړ کړی وو .
ما د استاد په اشاره هماغه غونډۍ ته وکتل ، چې یو وخت هلته د انګورو ګڼ باغونه او آبشار جوړ وو ، دا مهال یو شین خلی هم هلته نه ښکارېده یوازې په زور جوړ شوې څو کورونه وو او بس .
د استاد کوچنې زوی ته مې ټیلفون ورکړ ، یوه دوه تصویران مو واخیستل ، استاد لږ شاته شو ، په یوه ماته پخه ښنته یې پښه راغله ، نژدې وو چې په ځمکه را وغورځي ، خو لوړ جمپ یې وواهه ، ځان یې کلک کړ ، په خندا شو ، ماته یې وکتل ، ویې ویل : وینې دا هم د ورزش برکت دی .
ما وخندل ، له لاسه مې ونیو له ژور ځایه مې پورته راکش کړ ، د کیڼ لاس په اشاره یې د ښکته خوا ته تلو وویل .
څو شیبې وروسته د دې غونډۍ په لاندې لمن کې دواړه سره ولاړ وو . یو پوخ سړک لکه په خاورو غځیدلی مار په دښته کې تیر شوي وو ،استاد سړک ته ګوته ونیوه ، دا سړک وینې دا ډېر پخوانی دی . استاد ورو، ورو قدمونو واخیستل او بیا یې په خبرو کې وویل : زما پلار دې خدای وبخښي ، د استاد په دې خبره ما هم ورسره آمین وواېه .
هغه به مونږ ته کیسه کوله ، چې د دې سړک دواړو غاړوته د ناجو کتار ونې ولاړې وې او له هغه ځایه ! ګوره هغه دیوال درته ښکاري نیمه پوخ چې ولاړ دی؟
ما د سر په اشاره وپوهاوه ، چې هو وینم یې له دې ځایه آن د کابل شمال تر عمومي سړکه ، د سړک دواړو غاړو ته لوړ ځناورنه ولاړ وو ، پلار به مې ویل چې هغه ځنارونه دومره ګڼ وو ، چې آن د لمر وړانګې لاندې سړک ته نه را رسیدلې ، هغه خدای بخښلي به کیسه کوله ، چې دلته د کابل او افغانستان له هرې سیمې خلک راتلل ، د تفریح تر ټول ښکلی ځای همدا وو ، دلته د ظاهر شاه میلمستون وو.
کله چې استاد د ظاهر شاه د میلمستون خبره یاده کره ، یودم یې یو زاړه کنډواله ساختمان ته ګوته ونیوه ، هغه کنډواله ځای ګوره ، دا یو ډېر مجلل ساختمان وو ، په دوو پوړونو کې جوړ وو ، پلار به مې ویل ، چې دلته به ډېر خاص میلمانه د حکومت راتلل ، منظم پرسونل یې درلود ، له آشپزه نیولې آن تر برقي او هرڅه پورې یې درلودل او دا ځنګ ته یې ولاړه لوړه مناره چې وینې دا یو یادګاري ځلی دی ، چې پلار به مې ویل ددې ځلي په ښکته برخه کې د افغانستان نقشه حکاکي شوې وه ، کله چې به میلمانه راتلل د افغانستان سیاسي نقشه به یې مخې ته پرته وه .
د استاد په دې خبره د لوړ ولاړ ځلي خواته ورو ورو مخکې لاړم ، د ځلي یو اړخ بشپړ په مرمیو سوری سوری وو ، ښنتې یې لاندې پرتې وې ، خو د ځلي عظمت او لوړوالي لا خپل اصلیت ساتلی وو ، اوس یې هم خپلو سیالانو ته د افغانستان کنډر کنډر نقشه پر ټټر ساتلې وه . سپیني رخام تیرې یې ځای ځای نړیدلې وې ، خو د سپینو تیرو په بل اړخ کې په شنه رنګ اوس هم چا د افغانستان نقشه رسم کړې وه ، یوه لنډه جمله یې په درې ژبه پرې لیکلې وه (یک ملت یک وطن) د نقشې په بله څنډه کې په نرې خط لیکل شوي وو، ( نوید ارت).
استاد همداسې لګیا وو د سیمې د تیرو وختونو ډېرې کیسې یې له مشرانو په یاد وې ، د سړک څنګ ته ولاړو د ناجو څو ونو ته مې وکتل ، له استاده مې ناڅاپه پوښتنه وکړه .
استاده ودې ونه ویل چې هغه ونې څه شوې ؟ او هغه باغونه ، اوس خو هیڅ هم نشته، استاد لاسونو ته پړک ورکړ، بس همدومره یې وویل : د جنګ اوږده کلونه په دې سیمه تیر شول ، نور نو دې باغونو او ونو ته چا اوبه نه ورکولې، باغوان یې نه درلود ، کله چې روسان ووتل ، زیاتې ونې د مجاهدینو قوماندانانو او سرتیرو له بیخه په ماشیني اره پرې کړې . استاد همدلته لږ دمه شو ، غوښتل یې څه ووایي خو غلی شو ، ما ورته له څنګه راوکتل د سر په اشاره یې وپوهولم چې څو شیبې غلی پاتې شم ، زمونږ خواته یو څوک را روان وو ، غټ پټو یې له اوږو تاوکړی وو، استاد یې پېژانده ځکه د یوې سیمې وو، له لیرې مو سره لاسونه ورکړل ، هغه سړي هم وخندل ، بیا یې وویل : کرونا ده نوڅنګه وکړو ، ځان ساتل ښه دي .
استاد له هماغه کسه د کلي او کور څو پوښتنې وکړې او بیا یې وویل : څنګه دې کاروبار مو ؟
هغه کس د پټو دروند پلو په اوږه یوې خواته واړوه ، سره ساه یې واخیسته هې استاده جانه څه ووایم اوس یو څه خلک بې پیسو دي ، د ځمکو اخیستلو شوق نه کوي ، کله چې د ځمکې قیمت ورته ووایم په کې سل خبرې کوي ، څو کاله مخکې د کرزي دوره وه ، پیسې ډېرې وې زمونږ کار وبار هم جوړ وو ، اوس هیڅ هم نشته .
مقصد نمرې ډېرې دي که څوک دوستان یې اخلي په ښه بیه یې ورکوم !
د دښتې په یوه څنډه کې وړاندې څو پاخه کورونه ښکارېدل ، ما ترې پوښتنه وکړه ، چې نومره څنګه ورکوي ؟ یاني شرعي قواله ورکوي او که بل ډول ؟
سړي پکول په سرسم کړ او بیا لږ را وړاندې شو ، نه زمونږ قانون داسې دی ، چې د شخص ضمانت کوو ، خو د دولت ضمانت نه کوو ، په ټولو خلکو مو همداسې ځمکې خرڅې کړې ، خو که ځمکې ته اړتیا لرې څه ستونزه نشته ټول خلک یې اخلي .
نه نه هسې مې یوه پوښتنه وکړه ، کله چې مې هاخوا د دښتې بلې برخې ته وکتل له غصب شویو ځمکو پاخه دیوالونه تاو وو، د هر چاپېر دیوال پر دروازه لیکل شوي وو ( منزل قوماندان صایب ....).



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هو ! دا ځمکي اوس ټولي د قومندانانو وي ، خو په بېچاره ولس يي په لوږه بيه مفتي ځمکي خرڅولي .
له استاد سره د بلي غونډۍ سرته وختم ، موبايل مي له جيبه راوويسته ،د انټرنېټ د لټون( سرچ) په برخه کي مي وليکل :( کاريز مير ).
څو نومونه پرله پسي راغلل خو په وروستی برخه کي يي همدا نوم هم وو ، چي ماغوښته کله چي مي د کاريز مير په نوم باندې ګوته کېکاږله ، يو پخوانی شين او ښايسته تصوير يي د پاني په سرکې وو ، همدا کنډواله ميلمستون او په مرميو سوری سوری ولاړ ځلی لکه سور ګل د ګڼو ونو په منځ کي لوړ ولاړ وو ، او د هېواد نقشه يي پر ټټر له ليري ښکارېده .
د تصوير په پای کي ليکل شوي وو ( مايک رولان ـ ۱۳۴۰ لمريز کال ) . دا تصوير يو بهرني ژورناليست اخيستي وو .
څو شيبي مي لاندې ځمکي ته وکتل ، خپل ګريوان کي مي ډېر څه ليدل ،د سړک له هغه بل اړخه يو ځوان له يوې ځواني چادرې کړې ميرمني سره پلی د عمومي سړک خواته روان وو، هغوی په خپلو کي خبرې کولې ، لږ وړاندې له چادرې سپين را وتلی لاس هغه ځوان په لاس کي ونيو تر ډېره همداسي جوړه لاس په لاس سره پلی روان وو ، خو دا چي يوبل ته به يي څه ويل ، په هغې هغوی خپله ښه پوهېدل .
ماته په همدې شيبه کي هغه د ( هوسی ) ناول را په ياد شو د هوسی په ناول کي د د دې ځای هغه تصوير واقعي وو، چي هوسی همدلته نژدې شپيته کاله وړاندې د ښارونو د لوړو ونو لاندې سهار ته د ميني کلکه ژمنه ورکړې وه، اوس ۱۳۹۹ لمريز کال د حمل مياشتي اوولسمه نيټه وه ، په هماغه سيمه او هماغه محل کي د کنډر کنډر ديوالونو تر منځ په تللي خاورينه لاره کي د يو ځوان او پيغلي په خاورو کي خاپونه ځای ځای ښکارېدل او د وخت نغمه يي په دې غږ زمزمه کوله .

ما به کابل کابل کوو، نن مي کابل وليدو
هغه کابل چي مي د خوبه چي د خياله جوړ وو
د نرګسي جانان د زرکو زرکو سترګو په شان
چي هر تصوير يي د فطرت له خط و خاله جوړ وو
د کوه قاف د ښاپيرو د تصور مملکت
لکه د ناز لکه ادا د خپل جماله جوړ وو

۱۳۹۹ لمريز کال حمل مياشتي ۲۰ نيټه
کابل : بوستان سرک ، خيرخانه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ